**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲٦** (از ۲۷ سرطان الی ۳ اسد ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**د ایران-لوېدیځ اتومي توافق؛ پر افغانستان او سیمه يې اغېزې**

- د ایران اتومي پروګرام ته کتنه ........ ۴
- د ایران-امریکا نااعلان شوی ایتلاف ........ ٦
- پر سیمه د ایران-لوېدیځ د اتومي توافق اغېزې ........ ٦
- پر افغانستان د ایران د اتومي توافق اغېزې ........ ۸

**کشتارها در سایۀ قرارداد امنیتی با امریکا**

- پس منظر کشتارهایی که ادامه دارد ........ ۱۱
- نتیجۀ قرارداد امنیتی برعکس تفسیرها ........ ۱۲
- تحقیقات طبق معمول ........ ۱۳
- واکنش حکومت وحدت ملی ........ ۱۳

## مقدمه

د نړۍ شپږ قدرتونه (۵+۱) له ایران سره د دغه هېواد د اتومي پروګرام په تړاو له اوږدو خبرو اترو وروسته، بالاخره د جولای په 14مه (د سرطان په 23مه) د اتریش په پلازمېنه ویانا کې په یوه "تاریخي توافق" سره سلا شول. د دغه توافق له مخې به، ایران د اوږدې مودې لپاره خپل اتومي پروګرام محدودوي او په بدل کې به یې له دغه هېواد څخه نړیوال بندیزونه لرې کېږي.

دغې هوکړې په نړیواله کچه بېلابېل غبرګونونه له ځان سره درلودل، چې د افغانستان په ګډون یې ډېری هېوادونو هرکلی وکړ خو په سیمه کې ځینې هېوادونو بیا د مخالفت غږ اوچت کړ. دلته د ایران د اتومي پروګرام د شالید ترڅنګ، پر سیمه او افغانستان د دغه توافق اغېزې څېړو.

د تحلیل په دویمه برخه کې په لوګر ولایت کې د تېرې دوشنبې په ورځ د امریکایي چورلکو له خوا د افغان ځواکونو پر یوه پوسته د بمبارۍ پر پېښه تحلیل لولئ. په دې پېښه کې د ملي اردو 9 سرتېري ووژل شول او 6 نور ټپیان شول. دا برید داسې مهال کېږي، چې د افغانستان او امریکا ترمنځ د لاسلیک شوي امنیتي تړون له مخې، امریکایي ځواکونه له افغان ځواکونو سره له همغږۍ پرته، د هېڅ ډول پوځي عملیاتو حق نه لري.

جالبه دا وه چې ولسمشرۍ ماڼۍ په خپله اعلامیه کې حتی دا برید غندلی هم نه و او د اعلامیې ډول یې د امریکایي ځواکونو له خوا خپرې شوې اعلامیې ته ورته و. خو په ټوله کې دا برید نوی نه دی، بلکې په تېرو 14 کلونو کې وخت ناوخت دې ته ورته بریدونه شوي او له درنې مرګ ژوبلې اړولو سره‌سره "تېروتنه" بلل شوې؛ پوښتنه دا ده چې آیا په رښتیا هم دا بریدونه په تېروتنې سره کېږي؟ که داسې نه وي، نو امریکایي ځواکونه له دغو بریدونو سره څه پیغام رسول غواړي او موخه یې ترې څه ده؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، په همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د خپرنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# د ایران-لوېدیځ اتومي توافق؛ پر افغانستان او سیمه يې اغېزې



له تېرو څو لسیزو راهیسې په منځني ختیځ کې د ایران اتومي پروګرام هغه مهمه قضیه وه، چې له کبله یې د ایران د اسلامي انقلاب اړیکې د سیمې له یو شمېر هېوادونو -په تېره بیا سعودي او اسرائیلو- سره خرابې پرې شوې. دغو هېوادونو نه یوازې دا چې پر اتوم سمبال ایران یې د خپل امنیت لپاره ستر ګواښ باله، بلکې په سیمه کې یې ایران د خپل نفوذ په لاره کې هم ستر خنډ او خپل رقیب باله. له همدې ځایه ځینې عربي هېوادونه او اسرائیل امریکا ته نږدې شول او ترځنګ یې پر ایران د بندیزونو او بریدونو هرکلی وکړ.

د ایران د اتومي پروګرام پر سر د امریکا او ایران ترمنځ له تېرې یوې لسیزې راهیسې خبرې اترې روانې وې؛ خو دغه خبرې په تېره بیا د حسن روحاني له ولسمشر کېدو سره ګړندۍ شوې، له ۱۸ میاشتو خبرو اترو وروسته ایران او امریکا لومړني توافق ته ورسېدل او له هغه لومړني توافق څخه څلور میاشتې وروسته بالاخره ایران او لویدیځ په ویانا کې د اتومي موافقې په تاریخي تړون لاسلیک‌وکړ.

په نړۍ کې د دغې موافقې پرخلاف او په ملاتړ زیات غبرګونونه ولیدل شول. ډېرى هېوادونو د ایران او لویدیځ د اتومي موافقې هرکلی‌وکړ او د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې هم ټولو هېوادونو په ۲۲۳۱ پرېکړه‌لیک کې له دغې موافقې څخه ملاتړ وکړ. خو په بل اړخ کې دغې موافقې په منځني ختیځ کې مخالف غبرګونونه هم له ځان سره درلودل او له کبله یې د یو شمېر عربي هېوادونو او اسرائیلو اړیکې له امریکا سره خرابې پرې شوې.

امریکا هم له همدې امله ځينې هېوادونو ته د دفاع وزير ايشتن کلګ تر واستاوه، ترڅو دوی ته ډاډ ورکړي. ايشتن کارټر تېره اوونۍ د سعودي له ملک سلمان سره هم وليدل او په اسرائيلو کې يې له نتنياهو سره هم وکتل.

د دې ترڅنګ، د لويديځ په مطبوعاتو کې داسې خبرونه هم ترسترګو کېږي، چې امريکا به له اسرائيلو سره خپلې دفاعي اړيکې لا پياوړې کړي او پر مټ به يې د اسرائيلو مخالفت تر ډېره راکم کړي.

د نړۍ له شپږو قدرتونو سره د ايران د اتومي پروګرام په اړه توافق به، خپله پر ايران، په سيمه کې د ځواک پر انډول او په ټوله کې پر نړيوال سياست اغېزې وښندي؛ خو دا چې د دغه توافق اغېزې به پر سيمه او افغانستان څه وي؟ هغه موضوع ده چې دلته يې څېړو.

## د ايران اتومي پروګرام ته کتنه

د ايران اتومي پروګرام په ۱۹۵۷ کال کې هغه مهال پيل شو، چې کله امريکا «د سولې لپاره اتوم» تر نامه لاندې يوه تړون له کبله له ايران سره همکاري پيل کړه. وروسته بيا دغې همکارۍ د امريکا له خوا د (پنځه مېګاواټه تهران ريسرچ ريکټر) په ورکولو سره بدلون وموند[1]. هغه مهال ايران او امريکا ډېرې نږدې اړيکې پاللې او تهران په سيمه کې د امريکا د ګټو ساتندوی بلل کېده.

رضا شاه پهلوي په ۱۹۷۴ کال کې د ايران د اتومي انرژۍ سازمان جوړ کړ او هيله يې څرګنده کړه چې په شلو کلونو کې به د ۲۳ اتومي بټيو په وسيله ۲۳ زره مېګاواټه برېښنا توليد کړي[2]؛ خو په ۱۹۷۹ کال کې په ايران کې د اسلامي انقلاب له راتګ سره د امريکا او ايران ترمنځ اړيکې د څو لاملونو له کبله خرابې شوې:

**لومړی:** د اسلامي انقلاب ترسره کوونکو له خوا پر غرب او امريکا نيوکې؛

**دويم:** د امريکايي ديپلوماتانو نيول؛

**دريم:** پر ايران بنديزونه لګول.

---

[1] Iram Khalid & Rehana Saeed Hashmi, Iranian Nuclear Deal: Future Perspectives and Implications for the Region, Pakistan Vision, Vol. 15, No.1

[2] Arms Control, Timeline of Nuclear Diplomacy with Iran.

د اړیکو له خرابېدلو سره د امریکا له خوا له ایران سره د اتومي پروګرام، چې تر ډېره سوله‌ییز و، همکاري تم کړه. د دې ترڅنګ ایران له عراق سره په یوه اوږده جګړه کې ښکېل شو؛ خو د یو شمېر پوهانو په اند د همدغې اوږدې جګړې پرمهال، ایران وانګېرله چې باید د اتوم جوړولو په لټه کې شي، ترڅو د خپل هېواد امنیت تضمین کړای شي.

د نړیوال اتومي انرژۍ سازمان په اند، په ۱۹۸۷کال کې ایران له عبدالقدیرخان څخه ځینې تخنیکي مرستې ترلاسه کړې[3]. په نوییمه لسیزه کې د امریکا له خوا پر ایران یو شمېر اقتصادي بندیزونه ولګېدل او له ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې دا بندیزونه نور هم زیات شول. په دغه پړاو کې ایران له ۱+۵ هېوادونو[4] او د اتومي انرژۍ له نړېوالې اداري سره خبرې اترې وکړې، چې دا خبرې به هم کله ودرېدې او کله به هم بیا پیل شوې؛ خو دواړه لورې کومې موافقې ته پکې ونه رسېدل.

کله چې په ایران کې حسن روحاني انتخابات وګټل نو د اتومي پروګرام په اړه بیا خبرې اترې پیل شوې او د امریکا ولسمشر اوباما هم له روحاني سره ټېلېفوني خبرې وکړې او دا په تېرو څو لسیزو کې لومړی ځل و، چې د دواړو هېوادونو د جګپوړو چارواکیو ترمنځ مخامخ اړیکه ونیول شوه.

په پیل کې د روحاني له راتګ سره د امریکا او ایران ترمنځ پر یوه شپږ-میاشتني لنډمهالي تړون موافقه وشوه، چې له مخې به یې ایران تر شپږو میاشتو پورې یورانیم نه غني کوي او امریکا به پر ایران د اتومي پروګرام تر چتر لاندې نور بندیزونه نه لګوي[5]. خو وروسته بیا د سویس په لوزان ښار کې د ایران او ۱+۵ هېوادونو ترمنځ پر یوه اوږدمهالي تړون ابتدایي توافق وشو.

اوس له څلورو میاشتو خبرو اترو وروسته، د لوزان ابتدایي توافق، د ویانا په جامع او بشپړ تړون سره بدلون وموند.

[3] Albright, D. (2007). Iran's Nuclear Program: Status and Uncertainties, Washington DC: Congress Committee on Foreign Affairs.

[4] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پنځه دایمي غړي او جرمني.

[5] Aljazeera, Shifting focus: Impact of Iran nuclear deal, 24 Nov, 2013, retrieved at 1 April 2015, see it online: < http://www.aljazeera.com/news/middleeast/2013/11/shifting-focus-impact-iran-nuclear-deal-2013112481732726811.html>

## د ایران-امریکا نااعلان شوی اېتلاف

په رسنیو کې د اوباما د دکترین په تړاو ډېر څه ویل شوي او خپله اوباما هم له نیویارک ټایمز ورځپاڼې سره په مرکه کې په دې اړه خپل دکترین واضح کړ. ده وویل: "موږ په بشپړه توګه دې ته ژمن یو، چې هغوی [اسرائیل] په سیمه کې خپله نظامي برتري وساتي." مګر اوباما د دې ترڅنګ غواړي، چې له کیوبا، میانمار او ایران سره خپلې اړیکې د بندیزونو له ګرداب څخه راوباسي. له همدې ځایه ده، چې دوی له پنځو لسیزو راهیسې له کیوبا سره خپلې پرې شوې ډیپلوماتیکي اړیکې بیا ټینګې کړې او له ایران سره یې هم د داعش ډلې د پورته کېدنې پرمهال اتومي موافقه وکړه.

په همدې تړاو د بېروت امریکایي پوهنتون استاد پروفیسور دکتور احمد موصلي په دې اند دی، چې امریکایان په دې پوه شول، چې یو خو دوی د جګړې ډګر ته خپل پوځیان نه شي لېږلی او بل، یوازې ایران له تکفیریانو سره جګړه کولای شي. همدا لامل دی، چې امریکایانو له دوی سره اتومي موافقه وکړه او له کبله به یې د ایران پر اقتصاد هم ډېرې مثبتې اغېزې وکړي. د بېلګې په توګه ایران ته به خپلې کنګل شوې شتمنۍ بېرته ورکړل شي، چې تقریباً ۱۲۰ ملیارده ډالره دي. د ایران بانکونه به له SWIFT سره ونښلي. د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کال د اقتصادي بندیزونو له کبله چې د ایران د تېلو صادرات ۵۰ سلنه کم شوي وو، بېرته به زیات شي. د دې ترڅنګ ډېرې نړېوال شرکتونه غواړي، چې په ایران کې پانګونه وکړي او ایرانی مارکېټ راخپل کړي.

دغه اتومي موافقه په داسې حال کې کېږي، چې له یوې مخې امریکا غواړي د داعش پرخلاف یو اېتلاف جوړ کړي او په همدې موخه ځو ورځې وړاندې د امریکا لوی درستیز هم افغانستان ته راغلی و. د دې ترڅنګ ایران هم د خپل امنیت لپاره داعش تر ټولو لوی ګواښ ګڼي او په سیمه کې د داعش پرخلاف د یوه اېتلاف د جوړولو په هڅه کې دی.

## پر سیمه د ایران-لوېدیځ د اتومي توافق اغېزې

**منځنی ختیځ:** د ایران د اتومي پروګرام په اړه د ایران او لویدیځ اتومي موافقې په سیمه کې د سعودي عربستان او اسرائیلو غبرګون له ځان سره درلود؛ ځکه په سیمه کې ایران د دواړو هېوادونو رقیب دی. اسرائیل،

ایران پر دې تورنوي چې له حماس سره مرستې کوي، د دې ترځنګ ستراتېژيک او سيمه‌ييز رقابت هم ورسره لري او سعودي بيا له ايران سره ايډيالوژيک او ستراتيژيک رقابت لري.

اسرائيلو وار له مخه د ايران او لويديځ ترمنځ اتومي موافقه يوه «تاريخي تېروتنه» بللې ده او ولسمشر نتنياهو په دې اند دی، چې دغه موافقه به د څو اوونيو دننه ايران په يوه اتومي ځواک بدل کړي، د اقتصادي بنديزونو په لرې کولو سره به پر ايران د ملياردونو ډالرو باران وشي، او پای به ايران دغه پيسې پر خپلو قاره‌ويشتونکو توغنديو ولګوي او ترځنګ به يې په سيمه کې د حزب الله په څېر خپل حليفان پياوړي کړي.

سعودي عربستان هم د دغې موافقې له کبله اندېښمن ښکاري؛ ځکه دوی هم له دې وېره لري، چې ايران اتومي ځواک نه شي. ځکه خو سعوديانو د امريکا د دفاع له وزير ايشتن کارټر سره په کتنه کې دا پوښتنه مطرح کړه، چې که ايرانيانو له موافقې سرغړونه وکړه، نو آيا د امريکا له اقتصادي بنديزونو سره به بيا هم مخ شي؟ چې په اړه يې د امريکا دفاع وزير هغوی ته ډاډ ورکړ[6].

**سويلي آسيا:** پاکستان به دغه حالت ته په ښه سترګه وګوري، ځکه له يوې خوا به يې له ايران سره تجارت زيات شي او له بلې خوا به له ايران سره په هغو اقتصادي پروژو کې (لکه ايران-پاکستان-هند د غازو نلليکه) هم له سره کار پيل کړي، چې پخوا يې د امريکا د فشارونو له کبله کار نه و پرې پيل کړی.

هند هم د ايران د اتومي موافقې هرکلی وکړ او دا موافقه يې په خپله ګټه وبلله؛ ځکه د دغې موافقې له کبله به د ايران او هند ترمنځ د انرژۍ، تجارت او اقتصادي همکاريو په ډګرونو کې اړيکې لا پراخې شي.

ايران د تيلو او غازو ډېر منابع لري او هند بيا د نړۍ يو له ډېرو انرژۍ مصرفوونکی او واردوونکی هېواد دی. په دې برخه کې هند کولای شي، چې له ايران څخه غاز او تېل وارد کړي. په ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کلونو کې هند تقريباً د خپلې ټولې اړتيا ۱۷ سلنه انرژي له ايران څخه واردوله، خو وروسته چې کله پر ايران اقتصادي بنديزونه ولګېدل او هند د امريکايي فشار او ستراتيژيکو عواملو له کبله د ايران-پاکستان-هند غاز نلليکې څخه په شا شو نو له ايران څخه د انرژۍ واردول هم ورځ تر بلې کم شول او اوس هند د خپلې مجموعي انرژۍ يوازې ٦ سلنه له ايرانه واردوي. د دې ترځنګ به دغه موافقه په ترانزيټي برخه کې هم هند ته ګټې ورسوي او له کبله به يې د چابهار بندر له لارې ځان افغانستان او منځنۍ آسيا ته ورسوي.

[6] د زياتو معلوماتو لپاره، وګورئ:
http://www.nytimes.com/2015/07/23/world/middleeast/iran-nuclear-deal-saudi-arabia.html?_r=0

## پر افغانستان د ایران د اتومي توافق اغېزې

ډېرى افغانان د ایران د اتومي موافقې له کبله اندېښمن دي، ځکه د دوى په ګمان له اقتصادي پلوه پورته کېدونکى ایران به په افغانستان کې خپل ستراتیژیک ملګري نور هم پیاوړي کړي او له دې سره به افغانستان له یو کلتوري یرغل سره هم مخ شي. مګر ترڅنګ یې ځینې نور بیا دغه موافقه د افغانستان په ګټه بولي او استدلال کوي، چې له کبله به یې په تجارتي، ستراتیژیک او اقتصادي ډګرونو کې پر افغانستان مثبتې اغېزې وښندي. خو د دغو دوو استدلالونو پرخلاف، د ایران اتومي موافقه به پر افغانستان خپلې مثبتې او منفي اغېزې وښندي.

د افغانستان لپاره به هم له یوې خوا دغه حالت ښه وي؛ ځکه له ایران سره به په یو شمېر اقتصادي پروژو کې، لکه (د چین-افغانستان-ایران د غازو نللیکه کې) په ډېره آسانۍ کار وکړای شي، خو له بلې خوا به له ایران سره د غاز/تېل نللیکو په نورو پروژو کې په رقابت کې ښکېل شي؛ ځکه هر هېواد به غواړي چې دغه نللیکې د دوى له هېواد څخه تېرې شي. دا مهال د افغانستان لویه ستونزه دا ده، چې ورځ تر بلې پکې ناامنۍ زیاتیږي. له همدې امله یې نه پر کانونو عملاً کار شوی او نه هم د انرژۍ دغه نللیکې له دې سیمې تېرې شوې دي.

د ایران د اتومي موافقې له کبله به په نړیوال مارکېټ کې د تېلو نرخونه هم راولوېږي. ځکه ایران دا مهال په یوه ورځ کې تقریباً ۱.۲ ملیون بېرله تېل صادروي، خو دغه ارقام پر ایران د اقتصادي بندیزونو څخه وړاندې ۲.۲ ملیونه بېرله په ورځ کې وو. اوس به چې د دغې موافقې له مخې له ایران څخه اقتصادي بندیزونه لرې کړای شي، نو د ایران د تیلو صادرات به هم زیات شي او په نړیوال مارکېټ کې به د تیلو عرضه زیاته شي او له کبله به یې د اقتصادي اصولو له مخې د تیلو نرخونه راولویږي. افغانستان چې هر کال د تیلو په واردولو ډېرې پیسې مصرفوي، دا ځل به د ایران د اتومي موافقې له کبله د تیلو په واردولو کم لګښتونه وکړي.

د ایران د اتومي موافقې له کبله به په افغانستان کې د ایران او امریکا ترمنځ همغږي زیاته شي. په کابل کې د ایران د سفیر، محمد رضا بهرامي په اند، له ایران څخه د اقتصادي بندیزونو په لرې کېدو سره به په افغانستان کې د ایرانیانو پانګونو ته هم مخه خلاصه شي. د ایران اتومي موافقه به په ترانزیټي برخه کې هم له افغانستان سره مرستې وکړي. د چابهار بندر چې د پاکستان د ګوادر بندر ته نږدې په ایراني سیمه کې د هند په مرسته جوړېده د نورو لاملونو ترڅنګ یې پر ایران د اقتصادي بندیزونو له کبله هم کارونه ځنډېدلي دي. اوس، چې له

ایرانه به اقتصادي بندیزونه لرې شي او هند به په اقتصادي توګه په ایران کې ډېر دخیل شي؛ نو د دغه بندر جوړېدل به هم ګړندي شي او په ترانزیتي او تجارتي برخه کې به پر افغانستان اغېزې وښندي.

په تجارتي برخه کې به یې له نړۍ او هند سره تجارت زیات شي؛ ځکه د تېرو کلونو د تجربو له مخې افغاني سوداګر په پاکستان کې له ډېرو ستونزو سره مخ دي او حتی د پاکستان-افغانستان اړیکو له رغېدو سره هم افغاني سوداګر له مشکلاتو سره مخ دي. په بل اړخ کې د آپټا د تړون او د پاکستان-هند اړیکو له کبله افغانستان او افغاني سوداګر نه شي کولای چې د پاکستان له لارې له هند سره په نبغ ډول په تجارتي اړیکو کې غوټه شي.

افغانستان به منځنۍ اسیا ته د هندي صادراتي توکو په لاره کې هم ترانزیتي رول ولوبولی شي. ځکه هند یوازې د ایران له لارې له ترکمنستان سره اړیکې ټینګولای شي؛ خو تاجکستان چې هند ورسره تر ټولو زیاتې نږدې اړیکې لري، یوازې د افغانستان له لارې یې پیوستون شونی دی.

په منفي اړخ کې ځینې داسې اندېښنې هم شته، چې له ایران څخه د اقتصادي بندیزونو په لرې کېدو سره به ایران په خلاص مټ په افغانستان کې د داعش پر ضد خپلې هلې ځلې روانې کړي. که چیرې د ایرانیانو دغه هلې ځلې د افغان دولت له چینله همغږې نه شي نو شونې ده چې ایران به هم په افغانستان کې داسې ډلې چاغې کړي، چې له داعش سره وجنګېږي. دا نظر هم موجود دی، چې افغانستان به له دغه توافق وروسته د پاکستان، ایران او د سیمې د هېوادونو د نوې سیمه‌ییزې لوبې او نیابتي سیاست ډګر شي.

# کشتارها در سایهٔ قرارداد امنیتی با امریکا



صبح زود روز دوشنبه 29 سرطان تعدادی از سربازان اردوی ملی در یک پاسگاه امنیتی در ولایت لوگر در شرایطی مورد حملهٔ هلیکوپترهای امریکایی قرار گرفته و کشته و مجروح شدند که در منطقه هیچ‌گونه برخورد نظامی در جریان نبود. در این حمله که در ولسوالی برکی برک صورت گرفت، طبق گزارش‌های رسمی، 9 سرباز اردوی ملی کشته و شش تن دیگر زخمی شدند. شاهدان عینی تعداد کشته‌ها را بیش از ده تن می‌گویند.

نیروهای امریکایی گفته اند که این حمله اشتباها صورت گرفته و بخاطر وقوع آن معذرت خواسته اند. در گذشته نیز چنین حملات توسط نیروهای امریکایی بر نیروهای نظامی افغان صورت گرفته و در بعضی موارد توجیه امریکایی‌ها این بوده که سربازان لباس نظامی به تن نداشتند، اما در مورد این پوسته گفته شده که بیرق سه رنگ افغانستان به روی پاسگاه در اهتزار بوده و سربازان کشته و مجروح همه ملبس به نونیفورم نظامی بوده‌اند.

این حمله زمانی صورت گرفت که روز قبل از آن، جنرال مارتین دمپسی لوی درستیز امریکا طی یک سفر غیرمنتظره به افغانستان آمد تا یک بار دیگر به مبارزهٔ مشترک کشورش با تروریسم و خطر داعش با دولت افغانستان تاکید نماید.

## پس منظر کشتارهایی که ادامه دارد

نیروهای خارجی بخصوص امریکایی‌ها از سال 2001 تا کنون بارها دست به کشتار افغان‌ها زده‌اند که بیشترین قربانیان حمله‌های آنان نیز غیرنظامیان بوده‌اند.

نخستین حملهٔ آن‌ها که به کشتار دسته‌جمعی منجر شد، حمله به یک محفل عروسی در ولایت ارزگان بود که در آن حمله ده‌ها نفر به شمول عروس کشته شدند. در آن زمان مقامات دولتی افغان به حمایت از امریکا مدعی شدند که ملابرادر در این مراسم عروسی شرکت نموده بود و عروس نیز از بسته‌گان وی بود! بنابراین کشته شدن ده‌ها نفر در این جریان، بخشی از مبارزهٔ امریکا علیه تروریسم بوده است. در حالیکه بعدا مشخص شد که قربانیان آن حادثه بسته‌گان کسانی بودند که با حامدکرزی در جریان سقوط طالبان همکاری کرده بودند.

واقعهٔ عزیزآباد در شیندند نیز از وقایع قابل یادآوری است که طی آن، خانه‌های مسکونی مردم بمباران شد و ده‌ها نفر کشته شدند. هیئتی که از طرف دولت افغانستان به منطقه اعزام شده بود اعلام داشت که برخلاف ادعای خارجی‌ها که می‌گویند در این حمله تعدادی از طالبان مسلح هدف قرار گرفته اند، هیچ طالبی هنگام حمله در منطقه حضور نداشت.

در یک مورد دیگر چند سال قبل در ولایت قندوز تانکرهای تیل ربوده شده توسط طیارات نیروهای خارجی در شرایطی مورد حمله قرار گرفت که طالبان آن‌ها را رها کرده و مردم محل برای گرفتن تیل دور آن‌ها جمع شده بودند. در نتیجهٔ بمباران طیارات ائتلاف که به تقاضای فرمانده نیروهای آلمانی در قندوز صورت گرفته بود، بیش از صد نفر از مردم محل کشته شدند، اما دولت آلمان حتی حاضر به پرداخت غرامت به خانواده‌های قربانیان نشد.

حملات زیادی نیز علیه نیروهای افغان در نقاط مختلف صورت گرفت که به کشته و زخمی شدن تعداد زیادی از آنان منجر شد.

این گونه جنایات بحدی گسترش یافت که سرانجام حامدکرزی رییس جمهور وقت افغانستان را به موضع‌گیری تند علیه امریکا واداشت و همین مسئله موجب شد که وی از امضای قرارداد با امریکایی‌ها ابا ورزد. اکنون بار دیگر مشخص می‌شود که این قرارداد که گفته می‌شد حضور نیروهای امریکایی در افغانستان را قانونمند خواهد ساخت، این حضور را قانون مند ساخت اما مطابق به قوانین امریکا!

## نتیجۀ قرارداد امنیتی برعکس تفسیرها

زمانیکه سروصدای امضای قرارداد امنیتی با امریکا بلند بود و اطرافیان حامدکرزی در صدد بودند تا این قرارداد را دوای هر درد افغانستان معرفی کنند، گفته می‌شد که یکی از مزایای این قرارداد این است که حضور نیروهای امریکایی را در افغانستان "قانونمند" خواهد ساخت و امریکایی‌ها دیگر نخواهند توانست دست به عملیات خودسرانه بزنند. اما اکنون می‌بینیم که یکبار دیگر امریکایی‌ها همان کاری را انجام داده‌اند که قبل از امضای قرارداد انجام می‌دادند؛ عملیات خودسرانه و بدون هماهنگی با نیروهای امنیتی افغان.

در بند اول مادۀ دوم قرارداد امنیتی با امریکا آمده است:

نیروهای ایالات متحده هیچ‌گونه عملیات محاربوی را در افغانستان اجرا نمی‌کنند مگر اینکه طرفین طور دیگری توافق کنند.

بندهای سوم و چهارم مادۀ دوم نیز تاکید بر همین مسئله دارد:

3. طرفین بر این باور اند که تامین امنیت مردم و قلمرو افغانستان وظیفۀ نیروهای دفاعی و امنیتی ملی افغان می‌باشد. طرفین برای افزایش سطح قابلیت‌های نیروهای دفاعی و امنیتی ملی افغان به منظور دفع و پاسخ به تهدیدات داخلی و خارجی باهم کار می‌کنند. برحسب تقاضای افغانستان، ایالات متحده فوراً حمایتی که آمادگی ارائۀ آن را دارد به نیروهای دفاعی و امنیتی ملی افغان به هدف پاسخ‌دهی به تهدیدات علیه امنیت این کشور، فرآهم می‌آورد.

4. طرفین تصدیق می‌دارند که عملیات نظامی ایالات متحده برای شکست القاعده و وابسته‌گان آن می‌تواند در چوکات مبارزه مشترک با تروریزم قابل قبول باشد. طرفین توافق دارند تا به هدف حفظ منافع ملی ایالات متحده و افغانستان، به همکاری و هماهنگی نزدیک باهم بدون توسل به عملیات یک‌جانبه نظامی ایالات متحده علیه تروریزم، ادامه دهند. منظور از عملیات نظامی ایالات متحده بر ضد تروریزم، عبارت ازعملیات متمم در حمایت از عملیات نیروهای دفاعی و امنیتی ملی افغان بر ضد تروریزم است که از سوی نیروهای ملی دفاعی و امنیتی این کشور رهبری شده و مبتنی بر احترام کامل به حاکمیت افغانستان و توجه جدی به مصئونیت و امنیت مردم این کشور و توجه جدی به مصؤنیت و امنیت آن‌ها در خانه‌های شان انجام می‌شود.

## تحقیقات طبق معمول

واقعهٔ حمله به پاسگاه نظامیان افغان، اعتراضات زیادی را موجب شد و در نتیجه طبق معمول چهارده سال گذشته، حکومت افغانستان هیئتی را به منظور تحقیق جریان واقعهٔ لوگر موظف ساخته است. نیروهای امریکایی نیز (طبق معمول) از این جریان ابراز تاسف نموده و ضمن ابراز همدردی با خانواده‌های قربانیان، گفته اند که در مورد تحقیق خواهند کرد.

با توجه به تجربیات چهارده سال گذشته که نیروهای خارجی بخصوص امریکایی‌ها بعد از چنین جریانات وعدهٔ تحقیق داده‌اند، اما نتیجهٔ تحقیق مشخص نشده است، در این مورد نیز می‌توان گفت که (طبق معمول) نتیجهٔ این تحقیق نیز یا مسکوت گذاشته خواهد شد و یا اینکه خارجی‌ها ادعا خواهند کرد که از نزدیکی پوسته بالای آنان آتش‌باری صورت گرفته و آن‌ها نیز به دفاع از خود دست به حملهٔ متقابل زده‌اند.

نیروهای افغان روی این نکته تاکید کرده‌اند که آن‌ها از نیروهای هوایی امریکا تقاضای کمک نکرده بودند و عملیات نیروهای امریکایی بدون هماهنگی با نیروهای افغان انجام شده است.

## واکنش حکومت وحدت ملی

اعلامیهٔ ارگ ریاست جمهوری در این رابطه به صورت کامل نشان از ضعف و بی‌اراده‌گی عالی‌ترین مقام کشور در قبال حفظ جان اتباع این کشور، داشت. این اعلامیه را می‌توان کاپی اعلامیهٔ صادر شده از جانب نیروهای امریکایی بعد از وقوع حادثه دانست که در آن از کشته شدن افراد ابراز تاسف و با خانواده‌های قربانیان ابراز همدردی شده و هیئتی نیز برای بررسی قضیه تعیین گردیده است.

در این اعلامیه به تعهد نیروهای امریکایی که در قرارداد امنیتی به جانب افغانستان سپرده اند، اشاره‌ای نشده و از آن‌ها با لهجهٔ نرم تقاضا شده است که در آینده از احتیاط کامل کار بگیرند تا وقایع مشابه تکرار نشود. این سخن بدین معناست که نیروهای امریکایی در این جریان نیز احتیاط کرده‌اند اما نیاز به احتیاط بیشتر است!

شماری از اعضای پارلمان کشور خواهان برخورد قانونی با این جنایت شده‌اند. اگر منظور از برخورد قانونی با این ماجرا این باشد که امریکا بخاطر تخلف از تعهدات در قرارداد امنیتی با افغانستان باید پاسخگوی این خودسری باشد، در این مورد دست دولت افغانستان بسته است. در قرارداد امنیتی با امریکا مشخص نیست که در صورتی که امریکا از مفاد قرارداد سرپیچی نماید، کدام مرجع می‌تواند به اعتراض افغانستان رسیده‌گی نماید.

اما این مسئله نیز پذیرفتنی نیست که گمان کنیم نیروهای هوایی امریکایی که سال‌هاست در فضای افغانستان جولان می‌دهند، ندانند که پوسته‌ها و قرارگاه‌های نیروهای افغان بخصوص در نزدیکی پایتخت، در کجاها موقعیت دارند. آیا هدف از این حمله، تضعیف روحیۀ نیروهای ملی افغان و زمینه‌سازی برای تقویت پروسۀ ملیشه‌سازی در کشور نیست؟

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com